# د نه سولي تړون

د امریکي ـ طا لب تړون پا کستا نی دي
له یو سره په ضرر د ا فغا نـي دي
پا کستا ن غواړي طا لب په اقتدار شي
د ا فغا ن په دولت په سر کا رشي
څو چي ګټی د پنجا ب د لته تا مین کړي
افغان خلک بی وزلي اوزبون کړي
طا لبا ن واړه مریا ن د پا کستان دي
قسمونه تول خوړلی په قران دي
افغا نی دولت هغو ته بیګا نه دي
د پنجا ب سره د هغو یارانه دي
د فرهنګ اود نهضت سره د ښمن
دآبد ا تو په تخریب کي برخمن
واکداری کي دبامیان بتا ن نسکورکړ
په وطن دافغان هره خوا اور پور کړ
د پنجا ب په امراورپه کا بل بل کړل
خلک بیځایه له کورونو ترزابل کړل
اوس د دی تړون ترشا توطیه دی
د ا فغان له انظا ر پټ د سیسه دي
توطیه دپاکستان د(آی ا س آی دي)
ورسره ملګرتیا د تور غدار دي
دی تړون کی افغا نی مجا هید ین
د پنجاب داکاسه لیس تول خا د مین
لاس په لاس د د ښمن سره دوستي
د ا فغا ن سره یی کلکه د ښمنی
موازي حکومت غواړي په کابل کي

***په کمک د لوي یا غي په سرپل کي***
***مجاهد۔ طا لب ــ سیا او پا کستا ن***
***غواړي وران کړي آ با د افغا نستا ن***
***افغان وروره که اوس هم نه پوهیږي***
***ستونزه ستا دی چی کورد ی خرابیږی***
***بس دي املا وتړه ویښ او بیدار شه***
***له وطن اوله ناموسه خپل ځارشه***
***دخوشحا ل توره راواخله په غیرت شه***
***د نیکونو او پلرونو په عزت شه***
***خپل وطن د پردو له لاس آزاد که***
***د ا فغا ن د اولسونو زړه شا د که***
***«مل» سره د آزادی نغمی سا ز که***
***زنده باد ا فغا نستا ن په لوړ آواز که***

***پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل»***
*********جرمنی «2020-03-05»***